# رنګین تصویر

## شعري ټولګه



Ketabton.com

شاعر محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

نور سره شونډان غزل کې نه یادوم
خومار چشمان غــزل کې نه یادوم

د ځانه درونډ سنګین پښتون جوړوم
سپک سپک شیان غزل کې نه یادوم

د ګلاب ګل دې زنده باد وي مــدام
دا نور ګــلان غـــزل کې نه یادوم

سر چې ساتي سنګر دوښمن ته پرېږدي
داسې زلمیان غـــزل کې نه یادوم

له مینه ناکو سره مینه کــوم
فــوق انســانان غــزل کې نه یادوم

هر یو غزل به آشنا ستا پر نوم کړم
بیا نعــیم جان غــزل کې نه یادوم

محمدنعــیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ښه خو واه واه؛ بېکاره هم درنه په خدایٔ ښه دی
ستانه په هر صورت مرګیه دژوند سپی ښه دی

ځار ئې له درده؛ دا مې نښه ده، دمینې محبت
زره مې په هر ګل پسې جدا، جدا بورغی ښه دی

طلائي حسن لیلام نه کړې، پښتنې خورې
جنس دکروړونو دې په سر نښان تیکری ښه دی

په زړه زور مه وروره؛ دوه، درې کوه، دیوه په ځای
خونک دی ښه لګي په درد، ګرانې زګېروی ښه دی

خېته ټانکر؛ کونټي ډوول؛ ډوول دچارواکو مبارک
(نعیم) ډنګر فنګر، همداسې جګ نری ښه دی

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

چې توله مینه مینه شي؛ نفرت ګیلم دې جم کړم
راشه خدایؔ وهلې په یوه شوخ غزل دې دم کړم

نه دوئ څه انګر بنګر کړي، نه زه اوس ګناه نشته
ملا! دېموکراسۍ ټول ښار دنجینو سره محرم کړم

تر څو احوال راتلو چې ته نه؛ بله یې نامزاد کړه
د کلي منځ کې ډزو سهار دولس کېلو کم کړم

مرګي ګلونه ټول کړل، پس له دې مه راځه سولې
نور نه درپسې ژاړم، نه دې غواړم، نه دې غم کړم

تر خپل وسه هر درد کار راکې وکړ نعیم جانه!
ظالم یو دېرش کلن مجردیت مې نو ښه سم کړم

محـمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

داسې پوخ په انکار نه وم لکه اوس
په زړکي پټ غار نه وم لکه اوس

مرکزي کرېکټر دمستو محفلو وم
دغمو، دردو يار نه وم لکه اوس

خوږې مچې راکوې زندګۍ پيغلې
وچې شونډې؛ خوار زار نه وم لکه اوس

سپېځلتيا مې نورانيت تاعدوله
تور، شين مخ ګنهګار نه وم لکه اوس

مينه؛ مينه انسانيت وو، نعيم جانه¡
خپل، پردي نه بېزار نه وم لکه اوس

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

واه؛ څه شيرين ئې؛ څومره پوست ئې څنګه ښکلی ئې
يـوه ورځ بـه وي؛ لکـه شــيريخ پـاک مې ذبېښلی ئې

پرېږده چې درد څخه دې مـړ شم ما سره دا ښـائي
زړګــيه خـــپله مې په هــــر ښـــکلي داغـلی ئې

شرم کونکي پکې غرق فرق شول عجيب وخت دی
پارتوګـه! وه يې کـړې مــزې، چـاچې اېستلی يې

خدمت، مدمت پرېږده، په دار دې ځـړوي دلـته
بې شماره مړه کړه بس ددې خلکو ښاغلی يې

بيا مې سلام په ځـای مسجـد کې نوم وانچـوې
نعــيمه! فـــام کـوه، دا څـه ســتر خدایٓ وهلی يې

محمدنعـــيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

له هغې ورځې چې پر تا مې زړه بايللى فرض کړه
دسرو لمبو په منځ کې مثلاً وچ خلى فرض کړه

سربازي غواړي، آسان نه دئ؛ تلل ميړو مقام ته
سلوکې يو ځان ژوندى؛ نه نوي وژلى فرض کړه

څه! نو که نر ئې بيا تکيه شه، دچا خور ته لار کې
ځان يو ځل بل ځوان خپلې خور لار کې دريدلى فرض کړه

شيرين وطن کې مې ناتو، ماتو نه؛ خاص زړه کې مې
د تناره ها دوه متري سور سيخ تومبلى فرض کړه

اخ! درته مړ دې کړم؛ حاجي کاکا؛ کلا کې ګله
بوى دحلوا ئې په ملا صاحب لګيدلى فرض کړه

مسلط کفر؛ وچکالى؛ زلزلې څه (نعيمه)
که دا اعمال مو وي، آسمان هم رالويدلى فرض کړه

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ونړېدو يو، يو دېر فـــــلانونه مې وو؛ وران شول
واړه آرمـــانونه مې يو بل پسې شهـــيدان شول

شور مه کوه شور؛ که خدای کول آزار مو رنګ راوړ
وګوره خپل منځ کې رقيبان لاس او ګـرېوان شول

نوش ئې کړمه نوش نن څو لېوانو منځ کې ګير راغلم
زلـفې، اننګي، خــمارې ســترګې، ســره لبان شول

او شـکر پښـتانه ورونه مې تول جنت الحـق شول
وې ويشتل يو بل مړه ئې شهيد ژوندي غازيان شول

ودې لـيد نعيمه! زمـوږ دحق زور په ملک صيب کې
لــونې ئې رنديانې شـــوې، زامن ئې بوغــيان شول
محمدنعــيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ورکه افکار دلیوني به څه وي
زموږ شعر او شاعري به څه وي

چې لاس نیوی دې لاس کې دومره خوند کړي
خوله دې اېښول په اننګي به څه وي

آخیرنی زور او طاقت یې مرګ دی
ددې دنیا د ژوند سختي به څه وي

اکلاً یو دوښمن چې څار نکړي تري
خدمت وطن ته د سري به څه وي

سپېره نس تی کې دمرګي بیماري
ځار، ځار ددې خوار په زړګي به ځه وي

مجردی دوزخ کې لولفه شو
خدایزه ګنا د نعیمي به څه وي

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

راځې کنه؛ خو که راځې آورې؟
دحج اکبر ثواب ګټې آورې

سخت دې ځان سوړ کړ په ګل ګل ځوانانو
ګل ځوانان بازې هدیرې آورې؟

شرف، اخلاق، قابلګي واړه تفف
نن سبا صرف پیسې پیسې آورې؟

ټول ژوند دځان غلامي خط درکوم
که دیارۍ لاس راکوې آورې؟

سورخي پوډر زنده باد تېره ئې کړې
د نادرخان دوخت سیکې آورې؟

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

ناممکــن ځېـــــزونه مه غـــــواړه زړګیــه
لېـــونی به مې کـــړې ما هـــم لېـــونیــه

بـــوډا نه یــم قـــوارې نه بـــوډا ښـــکارم
را خـــورزه خـــورزه به نه کېـــږې مـــرګیه

ټیټې سترګې یوې نجلۍ له څنګــه تېر شـــوم
لـــه آخېـــره ئې نـــارې کـــړې نـــرښځیــه

تول ځوانان دې لېوني کړل خدای دې ورک کړه
کور دې ړنــګ شــه در په در شې سګـــرېټیه

پــاچاهۍ کې دې هېـــڅ شــک نشتــه پاچا ئی
په ګـــودر د پـــېغلـــو منـــځ کې منګـــوتیه

لګــه ورور ئې چې ئې داسـې راتــه ښـکارې
پــاک صـفا یـو چـاتـه ورتـه ئې سپـــوږمیــه

که مې کپ د خورمائې منې نـصیب شـــو
پــه سجـــــدو به دې ذده کـــرمــه تنـــدیــه

ستا لــه خـولې نه دا خبـره بـــلا خـونـد کړي
چې لـــه نـازه کلـــــــه وائـې نعیمیـــــه

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

ســتا صفتونـه شي؛ مـــــوضع رانـه اصلي ورکه شي
ځان مې پرې سپک سپاند کړ زما دې شاعري ورکه شي

راځه چې سرې صحــرا ولاړ شـو که رښتیا یاري کړې
کـني تی تی لـه دېوالـــــــونه دې یـاري ورکه شي

سـړی تـول عـــمر د آرمـان دوزخ تـه وغـــورځوي
پـه غـریبۍ کې دې غـم څه؛ آن لا ښـادي ورکه شي

هـا دوزخي ســره شــورویان ډېـر ترحـــم پرې لري
ځـینې مسـلېمو خـــو دې آن مسـلماني ورکه شي

یو کـېږي بیا نن سـبا ګـوره پښتانه هـوښـیار شول
لکـه پخــوا د ډیوریند کـرښه به ببخي ورکه شي

د کابل جـــان ملنګي ښـــه ده پرې راځـــه نعـیمه
د اورپائي کفـــري ملکـــو دې پاچـــاهي ورکه شي

(محمدنعیم وروړک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

چې نا پېـــــــژنده مــیلمه درشـــــي؛ ددې یار دې نه وي
زړه مې تر غـــــته ګــوته تـېر شـــي چې ریبار دې نه وي

بس چې په ژوند ورک؛ مرګ مې خپل وطن نصیب کړې خدایه
هېڅ جـــــنازه؛ غـــسل؛ کـــفن؛ حــــتا مــــزار دې نه وي

ذاهده زه سخت ګــــنهګار یم؛ ســـــتا په شــان له خـــدایه
حــــــورې غلـمان نه غـــــوارم؛ مـار؛ لـړم؛ انـکار دې نه وي

پـېرزو مې نــشي پـرې پــه دې مـــاته یې زور معلـــوم دی
که ســــور انګـــرېز هــــم وي؛ زمــا په شـان بېمار دې نه وي

تــــول چـــــتي یات دي؛ بابـــولالاې؛ د وروري درتــه وام
تیږه پـرې کـېږده (نعـیم کو) چـنجان اشـــعار دې نه وي

محمدنعـــیم وروړک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

صـفتونه تشـــريحـــــات دې پکې بـار وي
هـــر غـــزل مې لکـه زه ســتا خــدمتکار وي

ددې دور اکــــــــثريت زمـا پـه شـــان دي
ظاهـــر خـــاندي پـه زړګي يې بـل انکار وي

د هجـــران هـــره لهـــذه دې داسې لمانځـم
لکـــه ښــه ادرار نـــيولی چې ايــــسار وي

پـودريان شي مــــــرداری پـه ډيرانو خـــوري
چې وهـــلی ځـــوک د ســـوي زړه آزار وي

خـــريمې دي؛ خـــريمې دي؛ خـــريمې دي
چې بـازار کې يې پـــر مخ زلـفې تـار تـار وي

اې دا څـه معنا تل خـــوب وينم چې مـړ يم
د اېرګـين ســـر انبوخـــاک کې مې مـــزار وي

که چا وېل درته نعـــيم کړې ته غـــړ مه کـړه
حـــياناکو جــــينکو کې دا اقـــــرار وی

محمدنعيم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ژوند څه و؟ خو سلګۍ مې یو بل پسې وکړې ټول عمر
د خپل زړګي په اور کې مې لمبې وکړې ټول عمر

خوبانو سره دمینې یوې، جملې ته وزګار نشوم
ږوندی په سې مې منډې، رامنډې وکړې ټول عمر

دوئ ووهو د سر دسرې سر مو، لا وهي یې
موږ وغندل، تر څنګ مو یې ښېرې وکړې ټول عمر

اخ! زه به په محشر خدایٔ ته په کوم مخ وړاندې کېږم
دشېخ په نوم، ټګۍ کې مې مزې وکړې ټول عمر

زموږ د انسانیت دعوه باطله ده، نعیمه!
موږ غیرې انساني کړه وړه، جګړې وکړې ټول عمر

نعیم جان بوړا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

لږ څه راکړه؛ خیره لږ، په الـودا یم
اې¡ دحسن په دلی ناستي ګدا یم

په حصور کې مې د لوستو څاروی بویه
د نا لوستو امامت کوم ملا یم

شکر خدایځ صبر راکړی، غم یې نکړم
کني ښه وینم چې غرق، فرق یم، تبا یم

هسې نه لکه خانان خدایي شروع کړم
خان مې مکړې خدایه¡ تاته په دعا یم

کفر نه وایم، په شعر کې مې کمی دی
شعر بازار کې د وخت څکه دخندا یم

سر دې وخورم په ځوانی مې دې اور بل شي
چې په درد دوطن نه خورم بې معنا یم

ـــــــ نعیم جان بودا ـــــــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

تل په زړه باندې را آورې
خوږې مورې مورې مورې

وایم ټول جهان زما دی
چې مې سترګو لاندې ښورې

ته دې تل راته ژوندۍ ئې
ښادۍ نه غواړمه نورې

مرګ او درد دې خدای پر ما کړه
زما د دواړو سترګو تورې

نعیم وایي ژوندۍ اوسې
تر ډیر ډیره وخته پورې

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

مه وایه حق دلته دوکې چلیږي
ژبه ګونګې سترګې ړندې چلیږي

د خدایځ احکام د پردې شا ته لاړل
د اساسي قانون مادې چلیږي

عقل؛ تعلیم؛ انسانیت واړه هیڅ
ګوند ګوند بازۍ زور او پیسې چلیږي

مزې چې نوم د آبادۍ څوک یاد کړي
سرې سبا ئې جنازې چلیږي

نه، پردې جاز مې ګران وطن کې، نه
نعیمه؛ زړه کې مې چاړې چلیږي

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

څه ګام په ګام دې اړ کړم سوال ته دمرګي دنيا
راسره وه دې نه کړه يوې روپۍ ځواني دنيا

توپک ناکام دی، توپکيانو خپل ځانونه ورک کړل
قلمدانان دي، نن سبا چې لړزوي دنيا

چا چې جهان ليدلی څوک چې ګرځېدلي وايي
حورې دې پېغلې پښتنې ددې فاني دنيا

څه ما هم غچ درنه اخېستی له مرګي ها خوا
سوي غزل به مې دې هر وخت ژړوي دنيا

نه دې کړه شل نه به يې شل کړې په دې ګانې کېږده
نعيمه! غم دې وخوره نور د ابدي دنيا

محمدنعيم وردک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

نه هوس، نه د وزګار وخت ساعت تېری دی
هـر غـزل مې د ځــانګړي درد زګـېروی دی

ځـــــــــــناور بلا دې دېـرو تـه ور واوړي
پـه خـېره دچـا تـېر نـه وځـې چې سـړی دی

نه دنیا ده، نـه عـقبا دا چـــېرته ګـــرځـم
رالــوېـدلی دې پـه یـوه ســـترګـه پېکی دی

په غربت کې څه سپیره ګرد په مخ پرېوزي
تـه بـه وائـــې، د ګـــازي داش بـولانـی دی

ها دنـنګ، غـیرت مــېړو معیار اوس نه دی
هــر دلـه، دوس پـه ســـر ایښی پټکی دی

دبنده پـه خیال نظـر (نعـــیم) صحت تـه
ســـېږنی کـــال ئې دژونـد آخـــــرنی دی

محمدنعـیم وردګ

1397"2"30

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

دزړه سکــون د روح درمـــــــان مې ئې
ادکــــــــې ته نه ئې ایمـــــان مې ئې

یوې ته دي یو سـترګک ته پرې نښـومه
افف؛ څومره لوی ظالـم وجدان مې یې

یوه ورځ مې وچ تول ژوند کې ونه لیدې
پتې دشــــــــولو؛ کـه ګـــرېوان مې ئې؟

اې! مســــــــلماني، مســـــــلمان دنړی
خـــوږه خـــورکــه مې، ورورجـــان مې ئې

دزړه لـــــــه درده، یـو نیم پوچ لـفـــظه!
دشــاعــرۍ شـخـــصي نشــان مې یې

(نعـــیمه) مــــالګـه مســـــله د ژوندون
د زړګـــي سر مې، ئې چـــشمـان مې ئې

محـــمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

شکر دی مور مې شته، خوشبخته د دنیا یمه
په پاچاهۍ کې مې هېڅ شک نشته پاچا یمه

زوړ نه یم لرې سپینې ګیرې هسې ګپ کوې
نه؛ نه دروغ وائې؛ هــفته مخــکې پـیدا یمه

خیر نن خوب کې راته وښایه رحمان خدایه
څــوک دې زمــا په قـلم کــړي، زه د چــا یمه

تنهایۍ سوی یم؛ جوړه سپیان چې اوس ووینم
شــکر پرې وباســم؛ تـر ډیـره خــوش اروا یمه

نعیمه؛ تروش تندی مې مـرګ دی؛ د نازک زړګي
شاعــر یـم، فــام کوه، له عـام انســان جـلا یمه

محـمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ژبې، ژبې یم خوږې غوښې د ځان خورم درپسې
لکه په مور پسې تي خوری ماشوم مرم درپسې

وروسته، په ډېر زور زره نازره ورځنی ژوند پرې کوم
هر سهار مخکې له هر څه مات زره ترم درپسې

په تصور کې شپه او ورځ د ستا تر څنګ لوغېږم
د خیال پلو په آس ځان هر ځای رسوم درپسې

شیخي مېخي به مې تار تار وي یوه ورځ ګورې به یې
واک، رانه بل دی، په شرمو ځان شرموم درپسې

ملا، تعویذ، زیارت، فالونه، خو ناکام شول، دا ځل
توکل په خدایج یو څو خواږه غزل لیکم درپسې

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

په روی دلوی شان دي عاجل غوارم پنا ربه
نور خو نو ته خپله ښه ويني حال زما ربه

ستا امتحان دی، که دخپل جهالت پايله مو ده؟
ولې مو جوړه ده، له ملک نه کوشترګا ربه؟

لوږه وي، تنده، مرګ، ترور دوی پسې يې نشم زغمی
په ما پسې کړه، نور د هر افغان بلا ربه

بې صبري خدایځ کې کوم، غيرې ارادي کيسه ده
زه غوارم وخاندم، ها غږ شي د ژړا ربه

سيده يې ولېږل دوزخ ته، دجنت په اميد
غرق، يې کړل دېر محمدنعيم نيمچه ملا ربه

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

قسم ده، سوزي، پرې خوړېږي، زما داسې زړه دی
مار او لړم هم چې مړکېږي، زما داسې زړه دی

هاا ئې نفرت نه تش په تشه یو سلام نه اخلي
دی ئې مچو پسې سولېږي، زما داسې زړه دی

مکاري، فرېب، دوه مخي ته وکړې، ستا خیال نه وي
سترګې دده مړې وي، شرمېږي، زما داسې زړه دی

توکل په خدایځ نامسلمان یار ته نن بیا خاندم
دا دوې، درځ شپې ژوند دی تېرېږي، زما داسې زړه دی

نعیمه؛ ماسره دې وشي ظلم، مګر له ما
مېږی دې هم نه آزارېږي زما داسې زړه دی

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

غرق شو، تبا شو، ځار قربان قسم ده
زړه مې ټوک، ټوک شو په خپل ځان قسم ده

خوارشئ شیخي مو را تار، تار کړه، ښکلو
خېل او خټک یاست دشیطان قسم ده

که انسانیت په انسان کې شرط وي
زه موږ کې نه وینم انسان قسم ده

په ملیاردونه آرمانونو کې مې
تر ټولو ستر دی ستا آرمان قسم ده

قسم تا مات کړ، توبې ما ویستې
وېرېدم پرې نه وځي آسمان قسم ده

نوم نه د مرګ مې هم بلا خوري بلا
نور ژوند کړو هم نه لرم توان قسم ده

چې په غرو نه ځي لېونی نه دی لا
صد آفرین په نعیم جان قسم ده

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

جنګ بس دی غـــېږه راکړه وروره، آورې؟
زمـــا د دواړو ســـــــترګو توره، آورې؟

ښه به درس زده شي، انجـینر دې کـړم، هو
شپه ورځ مې ذهـن کې ته ښـــوره، آورې؟

څه نـو مــردار مې کــــړه، کافــر یم، بلې
تاســـره نـه کــــېږي، ســــر زوره، آورې؟

لـرې نـاځـــوانه شـــــنه لوخړه دې کـړم
ببل ببل مې بـل هــــر رګ کې اوره، آورې؟

خـــــیر په جګ بـلاک یې مــه غــــولېږه
آرمـــان به وکـړې راپسې ګـــوره، آورې؟

نعــــــیمه؛ مـرګ دې نه وي، امـن دې شي
پښو کې دې لنګ وي، ډوډۍ سپوره، آورې؟

ــــ محمدنعــیم وردګ ــــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

یـوه ورځ بـه ګـورې، چې یـا مـا وخلي یا تا راکړي
خـدایﺝ ظالـم نـه دی، چې تمام عـمر سـزا راکړي

ورتـه بـه ژاړم تـر هــغې بـه مې قـــــانع نکړي
ســتا نـه بغــیر کـه څـلور کـــونجه دنـیا راکړي

مـینه مې زور شـوه پـه حـیا، کـور تـه ور وتښـوم
عجیبه خوب وو، نن شپه څوک به ئې معنا راکړي

مــرم محـبت قـحطۍ وهـلي زړه لـه درده مــرم
نشته هیڅ کس چې پرې پتۍ کـیږدي دوا راکړي

پخــــوا مې دېرې آرزوګـانې وې نعــــــــیم لالا
اوس وایم خدایﺝ دې د روزۍ په ځای شیفا راکړي
محـمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

نـور مې چې هر څنګه کـوې دې آرمـانو دعـاوې
خـدایه رد نـه کـړې تر ځیګر د رسـېدو دعـاوې

دهکان وو؛ څکه ئې له مړه جسد خوشبو جګېږي
دې سـړي وړې د انســان، مـرغـه، مـالو دعـاوې

دوخت پښتون په ځانکدن وېل؛ اخ رانغله سوله
بې نتجې مې شوې قریب څلوېښت کالو دعـاوې

چې یـا ددې، یـا د هـغې دنیا شـم؛ خـدای لپاره
راپسې امـین ثم امـین کـړئ فـرښـتو دعـاوې

فکر دې کـړی (نعیمکو) دنـښې مـنځ مـنځ ولي
هېڅ خـطا نـه ځي مظلـومـانو د لاسـو دعـاوې

محمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

زه پر تا څـــومره نازېــدم ته څه ناځـــوان وختې
عالـم دې تـــول په راز خـــبر کړلـو شیطان وختې

افسوز افسوز ما درپسې څه په خوند لمانځونه کول
مـــلا امامـــه ته خـــو پـــوخ نا مسلمان وختې

په ماشومتوب دې مزه پلنه وه چنجان شی نه وې
پـه پېغلـتوب درجــه یک د تـــول جـــهان وخـتې

ما ویل زوی به دې اصلاح کړې زه پر تا عرضي شوم
ته خو دې زوی نه هم پنځـوس چنده نادان وختې

دوه پاچاهان نیم پـه نیم ویش او بلا نـورې کیسې
څـه ناکـــردی مې تـر مظلـوم افـــغانستان وختې

زه پـــرې باور لـــرم ذره ئې خـــوشحالی نه چـوي
سپینې سپـــوږمی که په نصیب د نعیـم جان وختې

محمدنعیـم "ورورک"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

پیدا مې نکړل آخـېر هــم ورته درمــان خدایه
عبس مې تاو کړ، په جهان نیم مړی ځان خدایه

زنا، شراب، قـتل هـر څه په مـا ملګرو وکـړل
څـه هــسې تور پورې کــومه په شــیطان خدایه

روان بحـران مې په هــېواد نور د زغــملو نه دی
یا عــاجـل سوله، یا راپرې باسې آســمان خدایه

ای هی، عجیب دی، ته به وایې ها د لوطؑ قوم دی
دلـته څــه ونکـــړل، څـه نکـړي مسلـمان خدایه

په تـول پـوره وم، نــور، یــوازې د لکی، کـمی وو
ځـــــان مې نن وتلـو په تله د وجـــدان خدایه

لکـه مـچی په ملکه، چې په لکو تـرې تــاو وي
شکلي عاشق کړې دشرق، غرب په نعیم جان خدایه

محـمـدنعـــیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

لو ئې ګډ کړی، له هر خوا دی ګوره
خـــپل جـهالـت راتـه بلا دی ګـوره

په شرق او غـرب يې درناوی کيږي
حسن دتـول جـهان پـاچـا دی ګـوره

متقـابل احـــــترام زده کـــړه پيره
کــبر صفت خـــاص د الله ج دی ګـوره

نجينې غرب ذوقه دي، ريباره دوخت
ورتـه ونـه وايې مـــــــلا دی ګـوره

دا چې (اغه) کړو هــر رقيب نعيمه!
راباندې کـــړی مـــا او تا دی ګـوره

محـمدنعـيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دلـته هــــر يو ځـــان جـــهادي بـولي
څوک چې ورور مړ کړي ځان غازي بـولي

ظلــم زياتی مې چاسـره وس کې نشته
خــلک مې نيک انســـــان ناکي بـولي

دوئ چې تانګـــو ســـره راغـلي هـېڅ
مـــوږه په خـپل کـــور کې ياغي بـولي

تـن کې جامې مې غـربت سپي شکولې
خـــدای ناترســــان مې پـوډري بولي

رشـوت خـوارو هم خدای ته ګپ ورکړ
اوس رشــــوتـونه شـــيريني بـولي

بې وفـــائي، دروغ؛ دوکــــه، غـــلا يعني
جــــک وهــــل ځـــينې چـــالاکي بولي

نعــيمه فکـــر ته دې فــــام ده؛ ډيرى
پـرتوګ ابســـتل ډيمــوکـــراسي بـولي

محـمدنعـيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غـــزل

وختونه وروسته مې پـوره دا يو آرمان کـړې ربه
جانـان زمـا د زړه کـرار مـا د جانـان کـړې ربـه

دا د انسان په لاس جوړ شوی هيڅ خوند نه راکوي
زمونږ وطن کې خور قانـون د پاک قـران کـړې ربه

چې په راستۍ د دوه يارانـو منځ کې منـدې وهي
دا ريـباران بې سـوالـه څـوابه جنتيـان کــړې ربه

څوک چې د بل ناموس پسې وي بې عـذتي يې غـواړي
په خپـل نامـوس يې شـرمينـد په تـول جـهان کـړې ربه

ساعت به مې تېر وي مداري غوندې بې منځ کې ناست يم
ددې محـــل ښـکلي پـه مـا تـول عـــاشقان کـړې ربه

په بيت المال ئې چې شهرک او مارکېتونه جوړ کړل
د ملت حـــق پکې لـــړم او ښامــاران کـړې ربـه

ډيرې بې ستـره بې حجابه پېغـــلې وينـم ښـار کې
د دوئ لپـاره يــو ځـل بيا يې طالبــان کـړې ربه

دا کبـــرجـــن ښکلي چې ماســـره ياري نه کـوي
دوئ هم بدرنګ ډنګر پنګر زمــا پــه شان کـړې ربه

څوک چې ددې مظلـوم ولس د مرګ فتوا ورکــوي
په سـرطـان مـرض اخته دغه مـفتيان کــړې ربه

له خارجيانو سره چې جنګ کړي فېدائي پـرې کوي
هغې غازيانـو مـرګ او درد په نعيـم جان کـړې ربه

محمدنعيـــم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

لکۍ نه تښــــیو ته ســــوتی دوا دی
ســخـتو رنځــورو ته مــرګی دوا دی

دخدای قـدرت دی؛ نـارینه ته ښـځه
بـرعکـس ښـــځې ته ســــړی دوا دی

هسې یې ګـرځــوي طبیب په طبیب
تروري د لـــور دې ســــپیلنی دوا دی

ثبوت که غواړې پول سوخته ته راشه
ځان تـباهی ته ســیګـریټی دوا دی

د معـــیاري شـــــاعـــــری وړیـو ته
محـمدنعــــــیم انبوخــــاکی دوا دی

محـمدنعیــم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

مـاته ئې اجـر راکـړې نور تـرېنه سـاتې خدايه
ابليس لعين مې په شـان مه رنځـوره وې خدايه

جـرأت دې هـرې ګـناه سـتا رحـيم صفت راکـړی
خـوښه دې نـور پرې تېنګوې، که مې ښښې خدايه

هفت رنګ دېوې ئې هره شپه په زيارت ولې ګرځي
دا خو مـردار په نوم شو خـښ بې جـنازې خدايه

مسافرخونه غوندې هيڅ پکې سـترېيا نه وځي
د سره انګـرېز کـافر کور مه کړې بې ادې خدايه

تېر کال ئې دا ورځ په پغمان کې ځـه آتڼ وکړ
سږکال ئې رېږي په زيارت بـاندې جـنډې خدايه

لکه نعيم؛ نه ئې څوک مړي نه ژونـدي کې وهي
کـافـر غــريب مه کــړې ددغې زمـانې خدايه

محمدنعـيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

دسـپوږمۍ غـېږ جـنتسـتان ته ولاړم
بېـګـا دخـيال تال کې اسـمان ته ولاړم

روان بحـران مې پـه وطـن اوبـه کـړم
په اوښکو اوښکو کې ګرېوان ته ولاړم

په اتوم بم ښـېرو ها سـپين کـور ولـه
مـور؛ لېونتوب نه کـه ،بيابان ته ولاړم

تـر پـل صـــراط د ژونـد خـــطا وتلم
دبـدبخـتـۍ حـد غـرقســـتان ولاړم

ړنګ بنګ کابل پسې مې زړه خوړېدو
که بـه هـر څـو رنګين مکـان ته ولاړم

بـدتـرين شـخـص تـر مـا نـه وو، پکې
عدالـتګاه دخــپل وجـــدان ته ولاړم

محــمدنعـيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

په خپل قدرت، خپلې خولې لاړې مې دوا کړې خدایه
د طبیبانو دروغ ناعلاج وینا کړې خدایه

غریب سړی یم، د لکو ولورو وس نه لرم
یوه ما پسې هم؛ لکه یوسف پسې ذلیخا کړې خدایه

چې یو بل نه وژني؛ دوښمن ددین، وطن، سر، درک کړي
افغان وګړي په خپل سود او زیان اګا کړې خدایه

د ملنګۍ کچکول تسمې مې غاړه وخوړله
که ډیره نه وي دوې درې شپې خو مې پاچا کړې خدایه

ددوئ دغم د زغمو نه یم ددوئ مه را وینې
بلا د مور پلار خوینو ورونو مې پر ما کړې خدایه

تول عالم سوله غوښته دعا کې؛ لیوني نعیم وېل
دنعیم جان تر شهادته جنګ سېوا کړې خدایه

محمدنعیم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غــزل

تول تیکه تیکه یم، لکه گـــران وطن مې وران یمه
نـن وي، کـه سـبا وي، د گـور مـړیو در روان یمه

زوړ یې کـړم ولــور پسې دې خــارج مملکتونو کې
ستا پلار به خوشحاله وي، چې زه هم مسلمان یمه

خیر که هر څو مې ژوند جنگونو سـرو لمبو کې دی
شکــر دی الحـــمدالله بیا هـم چې افــغان یمه

هر څو چې صوفي یم نجلۍ ځان راپورې مه موښه
هسې نه چې څه مې درته وېلي وي، انســان یمه

مـه مې وژنه گـــوره لـه آزاره بې لـوخـــره شې
مور لرمه، خور لرم، بچــیان لــرم پرې گران یمه

دامــنم وردگـــو کې پیدا یم؛ خـــو دا نه مــنم
تنهــا دې وردگ یـم؛ نـه د تول افــغانســتان یمه

محمدنعـــیم وردگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د پاسه تندر څلور خوا رانه طوفان تاوېږي
سره اور کې ناست یم؛ شنې لوخړې مې په ځان تاوېږي

شېخانو ستایل مو بدل کړئ، چې عالم ئې غرق کړ
ستاسو په بنه، د وخت واړه شیطانان تاوېږي

زړه به دې ټوک ټوک شي، هر ملک ته د نړۍ چې ولاړشې
سپېره مېره ګوله ډوډۍ پسې افغانان تاوېږي

چور چپاول ته دې بانې جوړه وي، بیا کابله
فکر دې شته پرې، تنظیمیان لکه لېوان تاوېږي

نظر قران ته جهالت دی، توقع دسولې
وطنه څو دې په سینه دا یهودان تاوېږي

نعیمه فام؛ وچ سرې سیند نه پورې ورې کوي
د ځار، قربان ژبو تر شاه دوکه بازان تاوېږي

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

**اخ؛ ته به وائې راخطا له طیارې یمه**
**اندام اندام، تیکه تیکه پرزې پرزې یمه**

ځغله دوزخه! زما په وړاندې آنتن نه ورکوې
شکر بلبل د کلمه ئې طخیبې یمه

دغلیمانو په دستور، ورور ته کمین کې ناست یم
لوده ترین، لوده ترین د زمانې یمه

د خور، وریندارې مرغ پلو ته اشتیا نه لرم
سخت وږی، تږی د ادې دلاس شکنې یمه

بې غیرتۍ نه سړی مړ ښه دی، بدی ښې دي
حق نه دفا کې زه په دغه عقیدې یمه

نعیمه! پرېږده په ما تېر ژوند نه مې مه غږوه
ټول یوه تر بله دردونکې خاطرې یمه
محمدنعیم وردگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

څه شی ئې جوړ کړل رانه ګوره سړی څه ووائي
دعـــاشقۍ لــه ظلـــم زوره  سړی څه ووائي

که مې تربور وای وچ په تنده مې وېشتلې اوس
حـیران بـریـان یـم تـاتـه وروره سړی څه ووائي

دلته به کار راته پیدا شي که بل ملک ته لاړشـم
پـه مــا د هــر دوکــانـدار پوره سړی څه ووائي

نن خـو دې تولـه شـپه ښې لـړې رانه پورته کـړې
دتـودې غـــــېږې د یـاد اوره سړی څه ووائي

ولا عجـیب دی، د وردګـــو هـغه حـــورو کې
(نعـیم) مئین دی، پـه یـوه تـوره سړی څه ووائي

محمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

په شــرابي حــرص دفـــاني دنيا لمبې لګوم
د مبايل پـه سکـــرين تصـوير د هديرې لګوم

بلا پس پاتې يم؛ روان دور سره هېڅ نه خورم
پـه تندي مُهـــــر د آدمؑ د زمــــــانې لګوم

بېګاه پخه شــپه چــا مسـيج کې رالـيکلي وو
د يـاد لـه درده دې درګرده پـه ځان خولې لګوم

يـوه د نړۍ ظـالمان، بلـه د نـړۍ مظلـومــان
پـه دغـه نسل پښـــــتانو دا دوه تاپې لګوم

لا هم وعليک په ځای کنځل کوي، بلا مودې شوې
پـه زيارتـو رنګــه جـــــندې تړم، ډېوې لګوم

زمـا د ســر د درد دوا (نعـيمه) پـوه ئې څـه ده؟
يـو څـو شـېبې ئې پـه زنګـون مې د ادې لګوم

محمدنعـيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ځار دې شم، ځار خدایؒ دې رپاند لره، هر لور بیراغه
زمــوږ هـویت زمــوږ د دوارو سـترګو تـور بیراغه

سر مو له تا، ملک مو له تا، مال مو له تا نه، قـربان
دریغ بـه یې نه کـړو، که حاجـت شو د څه نور بیراغه

ته ئې چې مــوږ یو، له تا پـرته مــوږ معنا نه لـــرو
جـګه شــمله دپلار، تیکــرې مــو ئې دمـــور بیراغه

ستا له عظمته شنه لوخره شــول زغمی دې نه شي
ډېر وینم، ډېر هـاخوا، دې خــوا سوځي په اور بیراغه

تا ته چې بد ګــوري آسمان دې خــدایؒ را پرې باسي پرې
په خـــوند ذلیل او هر دوښـمن دې شه شـبکور بیراغه

په شـرق او غـــرب دې دجـــمله ســــیالانو سر اوسې
خــــامـوش دې مه شه تر ابده شــرنګ او شـــور بیراغه

تور، سور، شین ماشاالله څه خوږلږی، څه ښکلی ښکارې
د نعــــیم جــــان دروح ســکن د زړه تکـــــور بیراغه

ملا نعیم جـان وردک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

په تا بايللو نه راپس مې د زړګي عکس
فرض کړه له بامه رالوېدلي منګوټي عکس

اخ! ښنګه خوار، ښنګه بې قدره شوې، ځار ځار کابله
سترګې چې هر خوا اړوم؛ سرېښ دی دسپي عکس

شنه خوله، خورې زلفې ډک ښار منځ کې راغاړې وځه
راځه زوی مړ کړو د رقيب په يوه فلمي عکس

په خوند ديوې ګناه پوه نشوم، ګنهګار شوم هسې
تل به مې سترګو ته کې ودرېد دمرګي عکس

دېموکراسي! خونده دې نشته؛ هغه ورځ دې منم
چې په سپين سرې نيا مې واخلې پتلوني عکس

نعيمه؛ رايه کوم کانديد ته ورکړم؟ دا وايه
ما خو ئې ونه ليد عکسو کې دسړي عکس

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

هر خوا نه رارنګه وه، کیسه د زندګۍ داسې
توکي دهر چا راچسپېدي لکه پټۍ داسې

څه شی دي راجوړ کړل ترې ای هی زما وطن ګوره
اور واخلي، ایرې شي، رنګه بنګه شي نړۍ داسې

څه بچېش دخوار غریب یتیم کوندې دحق زور دی
نه پرسېږي پاکه مزدورۍ باندې سومبۍ داسې

بې شک او شبهې دنړیوال جام مستحق یمه
نه دي تېرې هېڅ، نه به شي تېرې ملنګۍ داسې

غلا، قاچاقبرۍ؛ دوکې؛ دروغ یعني قانون خلاف
دېرې کانې وکړې په نعیم ملنګ نستۍ داسې

محمدنعیم وردک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د زهرو جام به مې نوش کړی په هوس و نن
نافرماني که دخدایځ نه وی، ژوند مې بس و نن

پښتو دې ورکه شي، دودونه یې دې سر وخوري
د دوه مئینو تر منځ داسې جرو بس و نن

پرونی مړی نه چا یاد کړو، نه یې دعا پسې وکړه
خیرات کې غم یې هر سړي سره د نس و نن

تکیه په خدایځ ژوند ته مې بیا طمعه پیدا شوله
ځوانانو مېنځ کې یې په ما باندې فوکس و نن

دچیغو، ریغو سر شکونې انرژي مې نه وه
په واړه زور مې دا څو بیته فریاد وس و نن

عجیب خوره، وره روانه وه، نور پرېږده په ځای
ملا نعیم هم پسې ښکنځل ترې مات اودس و نن

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دا آرمان مې خدایه ایستلی وای اخ کاشکې
په ګلاب یې نازولی وای اخ کاشکې

شیرنۍ کې به مې څه غوښتل پوهېږې؟
ورک چارګل دې ما مندلی وای اخ کاشکې

معیوب ځان دې کور ته ولې رالېږلم
بمه! هلته دې شیندلی وای اخ کاشکې

رانه نه تلې بیا ولو که شوروۍ وای
چې زړګی مې دې لیدلی وای اخ کاشکې

دا څه وینم؛ دا څه اورم ای هی خدایه
نور آسمان راپرېوتلی وای اخ کاشکې

له مورکۍ نه دې قربان، خو ظالم پلار دې
لکه ټانګ په بم ختلی وای اخ کاشکې

دې اخیر دزندګۍ کې مو نعیمه!
دوې درئ شپې امن راغلی وای اخ کاشکې

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غـزل

اې راځئ چې جنګ له مینې نه قربان کړو
پاتې ژوند تېـــر په رقـــــم د انسان کړو

د وحشت کړه به وحشیانو ته ور پـرېږدو
پس لـه دې نه به ځانـونه هوښیاران کړو

ټول عالم ګورئ پر مـــونږه پــورې خاندي
راځئ پورته له دې واړو خـخـه ځان کړو

دا دسرو وینـو ټغــر به نــور ورټــول کړو
اور به بـل د جنـــګ جګـړو په سامان کړو

مسلمـــان یـــو افغـــان یـــو شـــکر واړه
هسې یو پر بل نعیمــه بـــد ګـــومان کړو

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـــزل

بـــلا مودې زمـــوږ په کور کې یوه روپۍ نه وه
له غـــریبۍ مـــو د اختـــر په ورځ ډوډۍ،نـــه وه

په ژوند کې یو ځلې عاشق شومه یو چـا باندې
بد بختـــانه هغـــه هلک وخـــوت نجلۍ نـــه وه

صفت مې مـه کــوه عـــالمـه صفت وړ نه یـــم
ورانۍ مې کړلې خو ټوپک کې مې مرمۍ نه وه

تبر ماندېگر مې د انسان څېـره کې خـر ولېـد
پـه تـــول تـــللی وو پـــکت پکې لکۍ نـــه وه

بـــچي یې وړي تـــږي ځـــاله کې په طمعـــه وو
بېچاره چېـرته چـــا ویشتلې وه مـــرغۍ نه وه

زوی ته یې کـــوره الله ج څه آرکاه بـــارکا ورکړه
د پـلار ملنگ به یې گرېوان کې یوه تنۍ نـه وه

ویـــل یې هتـماً بـه راځې یوه شپه وردګ آشنا
زنـــګ در وهمه چې په کـــور کې مې ابۍ نه وه

نعیمه خدای ج خبر هغه دونیا دې څـــــنګه شي
پـــه دې دونیا خـــو دې مـزه د زنـدګۍ نـه وه
(محمدنعیم وروړک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

داسې پیمـال کـړم، زنـدګۍ پـه آرمـــانونو باندې
فـــرض کـړه کالـــونه باران شـوی؛ کاغـذونو باندې

د وخـــت لـه ښـــکلو ئې د یـوه پـښې راونښـــویوې
بـل دې شي اور زمـا پـه بې معـنا شعــرونو باندې

غـم د اولاد دلـوږې یـوه مـور دلـته غـم نـه بـولي
د بخـــــتورې بـه پـوره وي، ماښـــامونو بـاندې

په فرعونیانو دې فـام شته؟ وطـنه بیا یې زړه دی
چور؛ قتلې عـام؛ ورانی پـه نـوم د جـــهادونو باندې

ښکلو ترغوږ بل څه درځي که له لکۍ معیوب یاست
ولې وعلـیک پـه ځـای کنځل کـړئ؛ سلامونو باندې

پسې لـېوني زړه کې محـبت د ملک او مـال قـتلوم
څـــمه نن ګـــرځم د مالـــدارو پـه قـــبرونو باندې

نـشې، ملګـري، مـوسقي هـــرڅـه مې وه آزمـــویل
غـم نـه خـلاصون مـــومي سـړی عــبادتونو باندې

نعــیمه ومـنه د یـوې نـامـــــزادۍ خـــوند راکوي
د پـتاو شــوي بـم خــبر پـه ســرو پوځـــونو باندې
محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

د خلکـو کړو وړو تـه چې ګورم وایم ترنـګ نشي
لـه آسمانـونـونـه وېـرېـږم چې را ړنـګ نشي

زړګـیـــه خیر کـمـه تـومـه ګـــوزاره کـــوه
خدای ناخوسته چې کومه ورځ مو سره جنګ نشي

پـاچاهي هــم تر هـغـو پـورې مـزه نه کـوي
ســړی چې مخکې یو کـرت ورتــه مـلنـګ نشي

نـصـیب تـــه وګـــوره لـــونـــګ پټـــو کې وکـــرم
سپـېـره شین شوبی کې را پورته شي لونــګ نشي

مشهـور متل دی چې ځای نه تنـګېږي څو پـورې
نـعیمه زړه د چا چې څـو چا سره تـنګ نشي

محمدنـعیـم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

عجیبــه وخـــت دی مسلمان سـړی خطا بولي
خــلک د خـــدای او د رســـول خبــر ګنا بـــولي

دئورې وهل سنګسارول ډيـــر شـــرعي احــکام
ظلــم زيـاتـی ده وايـــي واړه نـــاروا بـــولي

له خپلو ګېډو خپـــل ځــــانونونه فتـــوا اخلي
صغيـــره څــه ان کبيـــره ګنـــا روا بـــولي

خــدای ناخـــوسته لکه يهود او نصارا غـــونډې
لـــه اخېـرت څخــه بهتــــره دا دونيـــا بــولـي

کل همــه غـرق دي ســر تـــر پايه ګنـــاهونو کې
په عـــيني حال کې هر سړی ځان پاک صفا بولي

نعيمـــه کانو بانــــډې ولي ناصبحـــان دلتـــــه
څوک وهابي څوک پنج پيري څوک يې ګمرا بولي

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

نشته په دونیا ستانه څـــوک ښه موري
ځان مې یې ځیګـــر مې یې او زره موري

سر مې دی که مال مې دی که ملک مې دی
ستانه دې قـــربان شي دا هـــر څه موري

ژونـــد مې پـــر تا ښـــکلی او روښانه دی
بېلــه تا مې ژونـــــد ده تپ تیاره موري

څومـره چې ستا نوم مې په زړه خوږ لږي
دومـــره به هیڅ شی نه وي خـــواږه موري

سم کـــونتنامـــو غـوندې زنـــدان ښکاري
کلــــه چې په کـــور کې نه یې ته موري

تل چې نعیـــم جان ته پـــرې دعا کـــوې
ځار دې شم قربان دې شم تر خوله موري

محمدنعیـــــم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

ما نـه لاس مینځه چې دا حـال وي مـا تـبا شماره
کـه ذره تـرک نـشــوم؛ پـاګل مې خـــامخا شماره

چې دېش آنتن دې په بام کېښود؛ کاکا پس له دې
زامـن کـــونیان؛ لـونې رنـدیانې د انـدیا شماره

د خپل بیراغ درېدو احساس چې په اتک نه کړي
هغه افـغان بې لکۍ شــین خر د صحــرا شماره

چې احــساســات پکې کــنترول څخه وتلي وو
ها څـــــلوریزې غـــــزلونه تـول زمـــا شماره

تـش پـه نـوم نـر خـواص؛ لباس د جـینکو کوي
یو نـیم هلک هـــم نعــیم جـانه پـه لیلا شماره

محمدنعــیم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

د خدایؐ رضا ده؛ ترې قـربان پـه بسـم الله کرځم
ځوانه ځوانی کې په ملا مات یـم پر امسا کرځم

د جوماتو ملا امام وم؛ خـدایؐ دې کـور ړنګ کړه
ستا لـه سترګک نه را په دې خـوا پـه هـوا ګرځم

مـور جانې پرې مې ږده سـنګر کې دا یهـود شـړم
د ګـــران وطــن ودانـېدو پـسې مې بیا ګرځم

سپی مې لـه تا ښه دی؛ سپړنې خـوار مې مه ګڼه
د وخت پاچا یـم پـه لـباس کې د ګـــدا ګرځم

په مسـلمانو خـونـدو ورونو شکـر ښـه ګران یم
د بې ایـمانـو پـه نظـــــر لکـــه بلا ګرځم

دومــر بخت نلـرم؛ خو بیا هم که در یـاد شـولم
د کابل جان کارته سخي زیارت شـاو خـوا ګرځم

محمـدنعـیم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

د نن نه ورســـته به یوه ورځ په دې دنیا نـه وی
افـــسوز افـــسوز چې ځـــان وژنه نـاروا نـه وی

سخت رانه ځـان پرې ګـنهګار شـــولو توبه توبه
درېغی سپین مخي؛ غـــنمرنګ ببخي پیدا نـه وی

خدایږ که مې خوا ته درکتلي وی؛ کـنځل مه کـړه
چې په حجاب کې وی؛ انداز دې؛ دې خطا نـه وی

یا مې یو څه د احسان وس ور ســـره شـوی وی
یا مې د خـــــــــوندو ورونـو زه بـلا؛ لالا نـه وی

ښـنګه بې ځـواب کوم؛ خـالقه د محشر په ورځ
ښـــکلو مخـو تـه تـش کاته کاشکی ګـنا نـه وی

ستا په شان مست به ګرځېدم جهاد مې څه کوو
پـه پاک قــــــران او احـــادیثو کـه آګـا نـه وی

هغه دې یـاد دې نعـیم جـانه چې بار بار دې وېل
اخ؛ درېغی درېغی په دې شـپه پسې ســـبا نه وی

محمدنعیم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital

## غــزل

یوه ورځ به واورې نعـــیم جان مړ دی
د ســـولې؛ امــن په ارمـــان مړ دی

واه؛ څه مخلـوق دی جـنازې ته ګــوره
فــکر کــوم؛ کــوم خــپتو خـان مړ دی

چې پـرې راټول دي ځــــناور دسیمې
ښــــکاري ددې رمې څـــــاروان مړ دی

شونډې مې ځکه ســرې پولې دي دواړه
بېګاه مې خـــوب لـیدو جـانان مړ دی

په مخ یې مچ کړم؛ ماوېل څه کړې تروړې
وېلې یـو زوی مې ســتا په شـان مړ دی

انګار، انګار چـــم کې شـــونډان ستایي
د یـوه نیم شـــاعر وجـــدان مړ دي

شاید یـوه شــــپه څوک در نارې کړي چې
پـه دروازه کې مــو یـو ځـــوان مړ دی

محمد نعــیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

سخت درتـه وږی يـم، ملالۍ که دې يـار شـمه
په ښکولېدو، راښکولېدو به دې خون کار شـمه

چې په هـر ځای کې راپه ياد شې عتبار وکړه
همغه ځای کې ګونـدې ووهـم خـومار شـمه

خـير زما لار کې دې شـنه وي، دا زغـملی شـم
الله دې نکـړي زه د بـل پـه لار کې خـار شـمه

په شرق او غرب کې پښتنو پېغلو باور وکړئ
که مو له خوندو کمې بولم زه دې خـوار شـمه

عـذت چې وري، تـولعنتونه پـه هـغه دوښـمـن
وچ پـه تـنـدي چې سـړی ولي هـغه ځـار شـمه

نعيمه؛ ژونـد کې مې ډنـده اخـبستې نـن سـبا
راپسې ګــوره لــــيونی د کابـل ښــــار شـمه

(محمدنعيم ورورک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دردمن، خوږمن تبا يمه زه نه يم
اتيا کلن بوډا يمه زه نه يم

اخېر مې ګوره ځان درسترګو تور کړ
دښکلو اينګرېبا يمه زه نه يم

واړه خويندې او ورونه مې ګلونه
ور ځار زه ئې لالا يمه زه نه يم

تبريک تبريک خدایؒ درکړم بختورې
دهر مرض دوا يمه زه نه يم

پاګل چې په ما تېر قيامتو نکړم
قسم په خدایؒ بلا يمه زه نه يم

مسلم، افغان، پښتون الحمدالله
خوشبخته د دنيا يمه زه نه يم

هر يو غزل او هر غزل بيت؛ بيت مې
د تک، تک درد غوغا يمه زه نه يم

نعيمه! دشنو خرو په تولي ګډ يم
فتواوې دي ملا يمه زه نه يم

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ژونــــد رټلـی در پـه در یـــم خـونـد مې نشته
غرق او فرق خاورې په سر یم خوند مې نشته

آرمـــانونـه راکې ګـــوډ مـات، هیلې مـړې دي
خـــپل نصیب ســـره تکـر یـم خوند مې نشته

د چا لاس، پښې، دچا کور نشـته، څـوک وږي
هـر افغان ته خـون ځـیګر یم خوند مې نشته

عـاشقی کې مې هــم لــوی مـنافق شـماره
پـه حـــیا، شــــرم خـــبر یـم خـوند مې نشته

په دې خــېټه، کــونټې بـوج دي، زیب نـه کړي
زه اسـکلیټ غـوندې ډنګـر یم خـوند مې نشته

د ادې جـــانې ئې خـــــوښ یـم نعـــیم جـــانه¡
پـلار ئې وائي لــــنډغــــر یـم خـوند مې نشـته

محـــمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

له پتنگتوبه مې زړه چوي په رڼا پسې روند شوم
څومره وړده شپه ده خالقه په سبا پسې روند شوم

د تره زامنو مړ مې نکړئ خیر یو ځل درځم
په خپله خاوره خپل وطن کلي کلا پسې روند شوم

څوک یې بدرنگه څوک یې توره څوک یې جته بولي
زه یې نړۍ کې جوړه نه وینم صفا پسې روند شوم

اوروپا کې میشته مسافرو د خولو کش مې واخېست
هر یوه ویل د خپل وطن ابو هوا پسې روند شوم

اې نور خو دې هره نخره وکړه په نعیم ملنګ
دخدای لپاره روند مې مه بوله په تا پسې روند شوم

{محمدنعیم ورورک}

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

زېـر جـمله مې د تـمام ژونــدون داســتان دی
زه پـه روح؛ روح مې پـه مـا بـاندې تاوان دی

جهنمي يـم سـل پـه سل نظـــر عـــمل تـه
جـــنتي يـم؛ جــنتي (رب) مهـــربان دی

يـو ځـای درد نکــړي طبيبه تـول وجـــود مې
توک توک؛ ځب ځب پاک صفا افغانستان دی

مـاتـه قـــوم؛ سـمت؛ نـژاد؛ ژبـه بې معـنا دي
زما خور ده؛ ورور دی صرف چې مسلمان دی

ځـه ورځـه پـه مـخ دې ښـه شـه کـبرجـنه
تانه ښکلی به مې يار کړي خدای رحـمان دی

سراســـر وطـن مې کور دی؛ زېـږون ځـای مې
د وردګـو؛ بندې چـــک؛ انبوخــاک جــان دی

محمدنعيم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ښه غیرتي به وي خو بیا هم ورخطا کړي سړی
دا ځینې پرېکړې د تقدیر پرېنګ په ژړاکړي سړی

تر اطرافي جینکو ځار هیڅ تاوان نه اړوي
رنګ یې دې ورک شي دښار نجونې خو ګډا کړي سړی

خوښه دې ځې کنه خو بې له تا به داسې یمه
لکه تي خور ماشوم چې مور څخه جدا کړي سړی

بچي بې لارې شول خواري یې هیڅ شوه هلته ګورئ
مخ په قبله ولاړ د خپل مرګي دعا کړي سړی

شاعري هم ښه وي نعیمه پس له مرګه قوم کې
حمزه، رحمان، خوشحال ختک غونډې بابا کړي سړی

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـــزل

قانع یم دیـــره ستـــره ګـنا وشـــوه رانه ګـرانه
پـــرون چې راپـــرېږي نه وتلې کـــور ودان آسمانه

چې پـــته درتـه ولګي زمــــــا پـه زړه د پـټ درد
عاشـــقه شې ته هـــــم په تاته ورتـه بې وجـــدانه

ثـواب به دې وي خـیر زنـدګی نه مې زړه تـــور دی
جـــونګـړه مې را وارتـیـږه کې مـړ مې کـړه بارانه

چې سترګې مې په سترګو نه ورلګي پاک دې ړوندشم
شــرمېږم په کړو وړو دې لــه وحـــشیانـو انسانه

د خـدایؒ لپاره کـړنک وهـه لـه مرګـه نجات راکـړه
روژه مې ده لـــه تنـــدې په کـــوما کې یـــم آذانه

نعیـــم بانـــدې یـو غـږ درسره وکـړه درنه ځار شم
ســـودا ئې ده چې شـــته ئې کـــه وتلی ئې ایـــمانه

محمدنعیـم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ګلابه! هر یو لفظ دې کیسې کوي قسم ده
کیسې دجلب او جذب یارانې کوي قسم ده

جګړه ده، زمونږ کور کلی کې لولپه شو، ګوره
دوی واړه میلیونر شول، لا مزې کوي قسم ده

د وخت لباسي مینې یار د یار تر فام بلا کړ
دېرې ئې د وژنې ارادې کوي قسم ده

تر مور په مهربان خدایج چې یقین لري، بیا ولې؟
شیخ: دومره له دوزخه اندیښنې کوي قسم ده

خواران ئې چې اشغالو کې دودې په لټه وینم
خانانو ته د ملک مې زړه ښېرې کوي قسم ده

قربان ئې شم صحیح ده، ښکلي تول ښکلي دي بېلکل
نعیمه! خو وردګ بېخي شغلې کوي قسم ده
محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

{غـزل}

تـوتې تـوتې شــول ديوالونـه زلزلـــه ده مــورې
د کوتې ور را څخــه ورک دی تــوره شـپه ده مورې

څه نازولـي ګلوريــن ځـــوانان يې غبــږ ته ورځي
مــزې يـې وکـــړې بختـــوره هـديـره ده مـــورې

په هغـه پورې مخامخ کــور کې يــوه پـېغـلـه اوسي
مـخ يې رنـا کـــوي بـاور وکــړه ديـــوه ده مــورې

ما ته د زيات عمـر دعـا مه کـوه قـربان دې شـــمه
غريب ته مرګ ښه وي په مرګ کې يې فايده ده مورې

لاړه شـــه کـلي کې پشکــه راتـــه وکـړه ګـرانې
توبه تـوبه د ښـار له حـورو مې تـــوبه ده مـــورې

په پـر مخ تـــللو هيـــوادو کې يې عـــلاج ونشـــو
مړو کې يې شماره نعيم جان نـور فيصلـه ده مورې

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

ښکلي خو ډير دي زړه مې تا غواړي
د ستا کيسې د ستا خنـدا غــواړي

يــوه شيبــه مې آرام نه پــرېــږدي
لکه ماشوم چې څــه له چا غـــواړي

تعويـذ مې هــم ورته پــرون وکړ
خو خدای وهلی دې نن بيا غواړي

دا پاګل زړه به مې ما هم کړي پاګل
نـعيمــه خامـخا همــدا غـــواړي

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غــزل

په خيـالي آس مې پښــه واړوه شاعــر شوم
د مـلنګ عـــبدالرحمن بابا په ځېــر شـــوم

ورځ بـــه راشي ســـــلامي به راتـــه وكـــړي
پروانكړي چې ته زور شـوې نن زه زېـر شوم

تېره شپه مې چې په خوب کې چېغې وکړې
خوب مې وليـد خدايه مکړې چې كافر شوم

سپېلني غوندې بې ستا مـخ ته لـوګی کړم
کابـــل جانـــه کـــه ددې نــــړۍ آمــر شـــوم

حـــج مې وكـــړ خـــو پيـسې حـلالې نه وې
پخواني نور مې كې ولاړ بـلا په ځېـر شـوم

نــه راځـي نـه راتــه زنــګ وهـي نعيمـــه
فـكر كــړم له تــمامي يارانـــو حېـر شـــوم

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

نـران خپله خپـل نامـه بانـدې لوېــږي
نــرښځي د پـــلار نيــکه پـه نـــوم نازېږي

را روانـې جمـعې ورځ بانـدې قـيامت دی
بـــزرګ نه يـم عـلامـونه معلـومېږي

سوله نـه راځي کـه راغلـلـه را تـــوه کړئ
څو يهود وي وضعه نور هـم خـــرابېږي

هديـــره کې پر يارانـــو بيـــراغ وينې
يـوه ورځ به پر مـــوږ هم داسې رېـږي

خوله د خدای له وېرې نشم ترې اخېستی
داسې نه ده چې خوبان مې نه خوښېږي

خپـل نصيب نه منـدې مه وهه نعيمـــه
پـه آسمـان بئ که پـر ځمکــه در رسېږي

محمدنعيـــــم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

په یوه کـتاب کې نن د حــورو د ښــکلا کیسې وې
عــتبار وکــړه ګــرانې پاکې صفا ســتا کیسې وې

مـنم دروغ وې؛ خو شهوت ته یې څوک نه هڅول
دې ســـریالونو نه مـــو ښې هـــا د انا کیسې وې

یهودي دوست شول خدایؑ په سپینو ګیرو وشرمول
تل بې چې خــولو کې د جـــهاد او لاالا کیسې وې

سخت خوند یې وکړ توله شپه ناست وم یارانو سره
د ســولې امـن ګـــران وطـن ودانېدا کیسې وې

ورســـره همــراز طالب؛ خـلاف یې امــریکا قتلـول
زمـا په ژونـد لمسایانو دلته صرف همدا کیسې وې

ولې برعکس شوې؛ نعـیم جانه؛ وایه څه دروشـول
ستا خو په خوله کې پخوا تولې د خندا کیسې وې

محمدنعـیم ورورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

نور خو لاځه حتا په سر کې مې وېښته خوړېږي
یو غرې نشته په وجود کې مې چې نه خوړېږي

یوه مسافر د ځانکدن آخېر سلګۍ کې ویل
په خپل وطن کلي او کور پسې مې زړه خوړېږي

زه څه د هغې یا د دغې دلې غړی نه یم
په دې خاطر ژاړم چې دواړه پښتانه خوړېږي

چاچې په جنګ یو اچولي یو پربل مو وژني
خدایه خواره بچیان یې مړه کړې چې پرې وخوړېږي

څوک چې دوا وي د تول کلي په ژوندو نعیمه
خود بې په مرګ د کلي تول واړه زاړه خوړېږي

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـــزل

د جټ شادي غونډې رنګ رنګ مې ګډوې ژونده
راباندې ودې کـــړې د نکـــرلو نخـــرې ژونده

نن تر پرون؛ سبا تر نن سخت؛ يعني دم پر دم
غــواښ مــاتـونکي ګـوزارونه راکـوې ژونده

داسې رشخند؛ داسې دې هېڅ کړم؛ انسانان لا څه
شنه خره د چم راپورې خاندي کې منې ژونده

زه دې عــذت سـر بلـندۍ طـرف ته کشکوم
ته ورځ تر بلې د ذلت پلــــو ته ځې ژونده

دير درنه ژاړي؛ چاپېرىال کې دا مـنم سخت يې
خـو په نعـــيم ببخي مېچنې تاووې ژونده

محمدنعــــيم وروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

څه وخت وو؛ یاد ئې راولي مسته ژړا پسې
زمـا چې تاپسې وتې سـترګې ستا ماپسې

خــلک خــو وايي، په تیارو پسې رڼا راځي
په ما خو پرله پسې تیارې اوري رڼا پسې

څو مو زاړه غله، قاتلین او خاینان تر مخ دي
بې غمه اوسئ خــدای که ورسـو دنیا پسې

مسلمانی کې ددې خلکو شېخه څه وائې
قران یې ایښی مسنوي قــانون په شا پسې

بانه دې سترګو رېبدو کې کارته پورته نه څي
پل خشتي مسجد کې لمونځ کېږي ملا پسې

نعیمه؛ پرېږده په توپک مئین دې غږ نه آوري
رب دې دیوه لــبه تبا کـــړي تول بلا پسې

محمدنعیـم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ته چې جفا وکړې، له تا چې ناروا وشي
ګيله په تامئين نادان زړه نه زما وشي

زما ځادر کې ئې چې زما ځنګ کې را پته کړې
ها غته، غټه چارمغزي ږلی دې بيا وشي

ژاړم له دې غمه چې زه به توري خاورې يم
کني يوه ورځ به ملک کې سوله خامخا وشي

اخېر اسلام دی راځئ موږ مخونه پټ کړو ترې
ډېمکراسي ده؛ نجينکو خدای ج که حيا وشي

نعيمه! پاڅه منده تړه هم په ځنګ کې غواړي
ګومان مې نشي چې کوم کار دې تش په دعا وشي

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

مینې دې راجـــــوړه داسې چـــــــاره کـــــړه
ورکـــــــــه مې په زړ لارو کـــې لاره کـــړه

پـروفــایـل ئې انګلـــش، دپښـــتو ورڅ لمانځـي
دغه پښـــتانو پښـــتو مـــــــــرداره کـــړه

چې پیر صیب، پیر صیب وایې لاس مې ښکل کړې
خدایؐ پاک دې زمـــا د دم بیمــــــاره کـــړه

دېـر یـاران پـه دې راځـــینې څـــــــنګ کــــوي
وائي! بنده خــوله له حق ګـــفتاره کـــړه

اې! د بام په ســـــر جـــینی کـه ګل نه وي
خــــیر یوه چپلکـــه را ګـــــوزاره کـــړه

اخ! کـه پـاچـاهي د نعـــیم جـان شـــولـه
یـوه شه نو چې تولـه ئې درځـــاره کـــړه

محـمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شاعر محمد نعیم وردګ

# غزل

داګتره لرې جورېدو وتلی؛
چاودلی زړه مې له ګندو وتلی؛
وضع يې ښه ده له ما ځوان ښکارېږي؛
کنې قسم ده له شپيتو وتلی؛
چرسي بنګي چې شوه که پلاردې هم وه؛
خرو کې يې شمار کړه له سرو وتلی؛
پښتو دې وايي چې غيرت نه لري؛
هغه سړی له پښتانو وتلی؛
چا چې نعيم وويشت په غبشي باندې؛
شکر نن خپله تر هغو وتلی؛؛

(c) ke...on.com: The Digital Library

# غـــزل

چې وخت و؛ کبر دې کوو اوس لاس مروړل څه معنا
په ســــــېلاب وړې يـار ته بيا لارې څـــارل څه معنا

مـوږ لونې پلـورو په پيسو؛ دوئ به ژونـدی خښوې
ځان له اسـلام مخـکې کـــفارو ښه گــڼل څه معنا

چې کارنامې يې د مـــېړه وي؛ مـــېړني هـغه دي
تر غـــوړو برېت؛ پگـړی لـه ســـره تاوول څه معنا

وروره راځه چې يو بل معاف؛ ظالم په خدای وسپارو
په مـــرداری کې لا لـــرگی پسې وهـــل څه معنا

چې په هوا يې پردي جـاز؛ ځمکه تانکـــونه گـرځي
پـه داسې مـــلک کې آزادی ورځې لمانځـل څه معنا

دردمـــنو زړونو نه، د درد ســـر اخـېستل دي؛ وايم
که چـا تپوس وکـــړ نعـــيم لالا غـــزل څه معنا

محمدنعـــيم وروړک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د پاڼ او پړانګ تر منځ راغلی یمه
خدایزده د چا آزار وهلی یمه

بې غیرت نه یم لست کې ځکه راغلم
غریبۍ بند په بند ترلی یمه

ته چې په آس د پېغلتوب سوره شوې
پېریانو هغه ورځ نیولی یمه

مغرورۍ لرې ما سره کله ښائي
سره زر خو نه، د خاورو خلی یمه

خپله پګړۍ خور ته تکری پسروم
نرۍ په دې جرم رټلی یمه

د تورو جنګ کې په سر نر نه لرم
د سترګو جنګ کې خدای وهلی یمه

وردګ ځوانانو ته دېوال نعیمه
نور له جمله ځوانانو ښکلی یمه

محمدنعیم وروړک

کوثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

مرګ ته انتظار نور خوشحالي څه وه
اور کې اړخ په اړخ شوم زندګي څه وه

هسې شرموول مسلماني، یعني
خلکو کې دوخت مسلماني څه وه

شاید خوند ئې هسې، شاید داسې وي
افف؛ دسپینې خولې نادیدګي څه وه

تور دزړه بړاس ایستل په سپین رنګ کې
شعر؛ او شاعران؛ او شاعري څه وه

یعني بنده کې دګل ګلاب ګول
شیرک وو، کامل شیرک، عاشقي څه وه

ساه وتل وجودنه، ځانکدن صفا
خپل وطن نه تلل مسافري څه وه

وړل په تمامي معنا آزار دې د یار
منځ کې دیارانو بې غوري څه وو

هلته خانده، دلته طلایي دوران
ژوند د آزادۍ مجردی څه وه

زه به چې معین شوم پرې واده به شوه
خدایزده (نعیم جانه) بدبختي څه وه

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

د زړه له سوخته برکت نام خدا ووايم
يو نه دی؛ دوه نه دی؛ په کوم درد وی الله ووايم

چې هر څو درونده غم وو؛ بيا نه ژاړم همدومره بس
راپسې ګوره خپل وصيت هم په خندا ووايم

پر ما د تېرې زندګۍ چې څوک له ما وپوښتي
په وچه پروت ژوندی ماهی فرض کړه؛ کوتا ووايم

راکې ايمان ته مې چې فام شي؛ بدبختی غرو لاندې
خوش بخت ترين انسان ځان ته د دنيا ووايم

چې په اېرګين سر مو خبښ نکړم؛ پرېږدی سپيان مې وخوري
د انبوخاک څوانانو پوه شولئ؛ که بيا ووايم

محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ای هی فنکار به دې دمرګ په خوب ویده وي یوه ورځ
غـزله ته به ئې، د لـوی واړه به خـوله وي یوه ورځ

د بې آزاره او ملنګـــــې زندګــــــی په یاد ئې
رنګ به دلـمر پـه کلي خړ غـمجن سپېره وي یوه ورځ

خلک دې وائي ولاړل ورک شول؛ نه؛ ما خوب لیدلی
ســوپر طاقت دتول جـهان به پښـتانه وي یوه ورځ

چې دمـلامـاتي اقــتصاد دوس ورمـېږ ته ګـــورم
واړه آثار به مې ناچاپ راپسې وراســته وي یوه ورځ

څه ته او خـدای لاس دې مینځلي که لا طمـعه لرې
نعـیمه څه فکـر کړې؟ ستا به هم واده وي یوه ورځ

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـزل

پرېـږده؛ تـول ژوند مې هـم سفر ښه دی
زه دغــــم مخ؛ غــم مې اســــتر ښه دی

د ځــان صفت نکــړم؛ خــو گـــــوره؛ اې
تـر خــــېتور مـــــېږه ډنگـــــر ښـه دی

اســــــرافیل جـــانه د یـو بل تـر قـــتل
شپېلۍ دې پوه کـړه؛ عام محشر ښه دی

وروره گل پـوش کـړه؛ چې نـاوکـه راوړو
پردي، آیلکس نـه خـــپل تېکـتر ښـه دی

ورک شـه پـه شـاتـو کې تـرخـــه نـه وی
پښــــتون کـه کـوز دی، او کـه بـر ښه دی

خوب مې لېدو جوړه په تخت ناست وو
چـا وېل سـپوږمۍ چـا وېل لــمر ښه دی

ترې مړ یا جوړ شي، تل څوک نه رنځوي
نعیمه؛ مــات زړه نـه؛ مــات سـر ښه دی

محمدنعیم وردگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـــزل

ولې دې کم کړم لـه هـر چـا نصیبـه
څــه مې خطـا وه څــه ګنـــا نصیبـه

د غمو غـرونه دې په سر را بار کــړل
په ماشوم توب دې کړم بــوډا نصیبه

د مــرګ او ژوند تــر منځ دې وتـــړلم
حیران حیران ګــورم هر خـوا نصیبه

ښکه دې یو له بل نه ورک کړو ګوره
زه لــه آشنـــا؛ آشنـــا لــه مـــا نصیبـه

ما خو آسمــان تـــه دتلـــو هــوډ لــرلو
تا په کــوهــي کې کــړم خطـا نصیبه

داسې دوښمن هم پر دوښمن نــه کوي
څه چې نعیــم ســره وکــړل تا نصیبــه

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

خــــدایؐ مــــهربان دی؛ هـــــره لاره کې به دام نه وي
بېرې دبخت به مې عمري ځـــای په ځـــای جـــام نه وي

ســـتانه د تللـــو هـــر کـــدم مې واتنونه فـــرض کـړه
ســـــتا په طـــرف مې کـــېلومــــــتر لاره ګام نه وي

یک طـرفـه مې ئې شـېرین پلار ســـره هـــم نه مـــنم
بل مـــــقابل چې نزاکــــت او احــــــــترام نه وي

مــــریخــه ولـــیکه ملي وحــــــدت دوران په یاد کې
هېڅ ترې کم هم نه دی؛ که زیات تر قـــتلې عـام نه وي

څوک سنګ وېشتونکي روانیان؛ څوک ځنځیریان کړل وخت
(نعــــــیم) غـــزل لـــیکي په زور الـــــهام ملهام نه وي

محـــمدنعـــیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

درنه تېر نه یم په دعــاګانو دې نګاره غوارم
پلار دې کافر شو اوس دې راساً له باداره غوارم

نور دې دګل په باد خدای مه وهه، فقط او فقط
په مـا پسې دې لکـه زه، تا پسې بېماره غوارم

زما وطن اخېستی اور دې هم خاموش شي او یا
اســـمان پرېوتی پرې دنیا واړه انګاره غوارم

مورې سرو سپینو پسې مه ګرځه، خبره واوره
صرف مسلـمانه؛ بـاشــــرفه، پـدر داره غوارم

(نعیمه) خدای شته د دنیا په نعمتونو کې اوس
اول، اول ســـوله وطـن کې برقـــــراره غوارم

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

څه رنګه ګــران چې دي پـــر ما یاران
داسې به نه وي ګـــران پـــر چا یاران

پـرې افتـخار کـوم الحمــــــدالله
اللـــه ج راکـــړي بـــا وفـــا یاران

خـدایه خـــوشحاله او آرام ئې لـرې
دي مې چې هـــر ځای په دونیا یـاران

تر ورنو زیات که نه وي کم هـم نه وي
پـه دغـه شـرط چې وي رښتیا یـاران

ما پیـــدا کړي قـــیمتي قـــــیمتي
تـــول لکـــه لعـــل لکه طـــلا یـاران

نعیمه ګل ګل ځوان چې هر ځای وینې
هغـــه دې تـــــول دي د لالا یـــاران

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

ښه خاطره دې پر یاد نه راځي چې ووایمه
شکر چې تېر شوې ژونده نور درته څه نه وایمه

تا سم د لاسه کانی واخېستو کنځلې کوې
لږ غوږ خو نیسه چې بد وایم که ښه وایمه

که مسلمان وي نو هتماً وائي مبارکه دې شه
د نجلۍ پلار ته پاک سپا نن حال د زړه وایمه

څوک غنمرګ څوک وائي زیړ څوک وائي سپین یار ښه وي
چې وفا ولري تک تور دې وي دا زه وایمه

هر څه مې هیر شي ستا پر مخ کې د ګونګي په څېر شم
ستا په غایب کې وایم نن به خامخا درته یو څه وایمه

ویل یې دیر خوند راکوي زه چې دوډۍ پخوم
نعیمه تل د ستا غزل په تناره وایمه

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

# غزل

توره تیاره وه نه چراغ وو نه سپوږمۍ وه بېګه
وړې ویده شوم نه اوبه وې نه ډوډۍ وه بېګه

سورخي پوډرې یې وهلې وې انا مې ښیم
پاکه صفا خورلس کلنه شهزادګۍ وه بېګه

پښتانه بیا یو شول ډیورینډ پوله یې ورانه کړله
خوب مې لیدو له وېرې تبه د نرۍ وه بېګه

سپی یې را وشکیرو تمامه شپه مې مندې کړې
خدایزده چې ولې د کافر لور لیونۍ وه بېګه

دغم ډالر پسې یې ځان د ځناور په څیر کړو
ددې سرې ډیره ښه ګیره او پګړۍ وه بېګه

نعیمه یاد کې دې په نیمه شپه تر دره راغلم
چا رالیکلې دا جمله په دروازګۍ وه بېګه

محمد نعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

پرون راغللم سبا مې جنازه ده
زندگي ددې دونیا هم درامه ده

یو خاصیت مې انساني درکې درک نکړ
نور مې ستا له یارانې څخه توبه ده

دا زه نه وایم هاشم لوگری وائي
چې پتلون ئې وو په تن کې پاحشه ده

یو د بل سپکې ته ناست دي په خپل منځ کې
فعلاً کلي نه د ښار زندگي ښه ده

یهودي جازونه بیا ډیر سرگردان دي
فکر کرم ملا امام باندې چاپه ده

په جرئت وایم د ټول جهان په سطحه
پښتنه پېغله په پېغلو کې ښایسته ده

جمعه گي به نور دایم راځو نعیمه
دا وردک خو په خدای سم جنت خانه ده

محمدنعیم "ورورک"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تولقافیزه غزل

پوره د هر افـغان آرمـان کـړي ربـه
د امن کـور افـغانسـتان کـړي ربه

راته ښـایسته یې تـر جهان کـړي ربـه
دښتې ډاګونه سـره ګـلان کـړي ربه

په اتـفاق تـول افــغانان کـړي ربـه
جنګو جــدل پکې پایـان کـړي ربه

سپک او سپېره یې دوښمنان کړي ربـه
له افـغانانو یې قـربان کـړي ربه

ښه باسواده مو هر ځــوان کـړي ربـه
سیاست مـدار یې دجــهان کـړي ربـه

تول ماشومان مـو مکتبیان کـړي ربـه
څوک انجینر څوک مولیان کـړي ربـه

په خندا شنه تـول افـغانان کـړي ربـه
قـبوله دعـا دنعـیم جان کـړي ربـه

محمدنعـیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غــزل

لکــه د ښــار پــه څلــــور لاري کې مــــنار ولاړ يم
خلک نيم هسې ځي نيم داسې زه کـــرار ولاړ يم

ستا قــتلولونه مې خـپل شــــهادت غــــوره ګنم
کاکازو بل مــــقابل څکــه نه کـــــړم وار ولاړ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلوریزه

څه په هنر دې دمنطق خلاف نخرې وکړې
ظاهراً جوړ یم، په باطن مې دې لمبې وکړې

ستا سره وعدې وروسته مې بلې سره اوکې نکړه
کنې! قسم ده، زښته ډېرو اشارې وکړې

محمدنعیم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلوريزه

مړ شوې په ښکلو پسې ګمرا زړګيه
زما بې شرمه، بې حيا زړګيه

ټول ژوند کش ګير کې تېر شو جوړ رانغلو
تا کوني نه کړم، ما ملا زړګيه

محمدنعیم وردگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلوریزه

څه رنګــه ګــران چې دي پر ما یاران
دومـره به نه وي ګـــران په چا یاران

نعیمه ګل ګل ځوان چې هر ځای ویني
هـــغه دې تـــول دي د لالا یـــاران

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلوریزه

څه ته او خدای ادبي اور دې پرې مړ کېږي کنه؟
تاپسې ماته شاعري مې دې خوښېږي کنه؟

تر دېواله یې سر راجګ کړ د رشخند په شکل
وېلې نعیمه سپینې خولې ته دې زره کېږي کنه؟

(محمدنعیم وردګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلــوریزه

چې شاعر نه وم خپل محل کې مې چا نه پېژندم
شـاعرۍ ځـــار دې شـم، دنـیا ته دې ور وپېژندم

نعـــیمه ښـــــار کې پـــرون پته راته ولګــیده
ملي بـیراغ غـونـدې په خـدای واړه زاړه پېژندم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلوريزه

تور زلفې کږه شانه سبا اختر دی
په خندا خندا راځه سبا اختر دی

زه به ولیکم تندي باندې دستا نوم
ته نعیم پرې ولیکه سبا اختر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور تم کده تړلي روانېږي انشاءالله
دسولې ډېوه لېږي رنا کېږي انشاءالله

یو بل نه به په مینه غېږې تاو کړو نعیم جانه
موږ دوی؛ دوی به له موږ نه؛ نه وېرېږي انشاءالله



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## {{زما کلی}}


راشـــه کې گورې  دونیايي جنـت دي
گپ مې و نکړ خدای راستي جنت دي

نعیمـه یو ځــل انبوخــــــاک ووینه
خـپله بیـا وايي واقـــعي جنـــت دي

محمدنعیم وردگ



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**